# د لاس اینجلس د ښار د وړو سوداګرۍ د بیاځلي پیاوړتیا صندوق: د غوښتنلیک لارښود

department
of economic
opportunity
COUNTY OF LOS ANGELES

# د پروګرام لنډيز

د **لاس انجلوس د اقتصادي فرصتونو د څانګې له لوري د وړو کاروبارونو د زغملو وړتیا صندوق (SBRF)** یو مرستندویه پروګرام دی چې وړو کاروبارونو ته تر 5000 ډالرو پورې مالي مرسته برابروي. دغه مرسته هغو کاروبارونو ته ورکول کېږي چې د کاري ځواک د له لاسه ورکولو، د پېرودونکو د کمښت، د ملکیت د زیان یا د عوایدو د کموالي له امله د 2025 د جون له میاشتې وروسته له ستونزو سره مخ شوي وي. دا ملاتړ د دې لپاره طرحه شوی چې کاروبارونه د ناخاپي پېښو څخه وروسته چې د دوی فعالیتونه یې ګډوډ کړي، بېرته عادي حالت ته را وګرځي.

د غوښتنلیک د سپارلو موده د **2025 کال د سپتمبر 29 نېټې د سهار له 9 بجو څخه تر د اکتوبر 31 نېټې د ماښام تر 5 بجو** (د پسیفیک وختPST) پورې ده. د غوښتنلیک ډکول شاوخوا 20-15 دقیقې وخت نیسي. که اړتیا وي، تاسو کولای شئ خپله پرمخ تللې برخه وساتئ او وروسته یې بشپړه کړئ.

## د ورتیا شرایط

**د مرستې مستحق کاروبارونه لکه: هغه فزیکي (دوکاني) کاروبارونه چې د پلورنځي مخ لري، خپلواک قراردادیان، ګرځنده پلورونکي او هغه د کور پر بنسټ کاروبارونه چې لاندې معیارونه پوره کړي:**

- د کډوالۍ کولو د اقداماتو له امله منفي اغېزمن شوي وي
- د کالیفورنیا په ایالت کې مرکزي دفتر ولري او د 2025 د جون له لومړۍ نېټې مخکې په لاس انجلوس کاونټي کې فعالیت کړی وي
- د کلنۍ ناخالص عاید اندازه یې باید 6 میلیونه ډالرو یا لږ وي
- کاروبار باید 100 یا لږ کارکوونکي ولري
- د مرستې غوښتونکی باید د کاروبار لوی (اکثریتي) مالک وي
- کاروبار باید د مالک لپاره په 2024 د مالي کال کې د عاید اصلي سرچینه وي
- کاروبار باید اوسمهال فعال وي او په ځایي، ایالتي او فدرالي مالیې او جواز ورکوونکو ادارو کې ښه حیثیت ولري
- کاروبار باید د "غیر مستحق کاروبارونو" په لېست کې شامل نه وي

## چېرته غوښتنلیک وسپارئ

تاسو کولای شئ په انلاین ډول د دې پتې له لارې غوښتنلیک وسپارئ:

[https://lacsmallbizresiliency.aidkit.org/apply](https://lacsmallbizresiliency.aidkit.org/apply)

💡 آیا مرستې ته اړتیا لرئ؟ که تاسو د غوښتنلیک د سپارلو پر مهال له تخنیکي ستونزو سره مخ یاست یا عمومي پوښتنې لرئ، کولای شئ د AidKit د ملاتړ ډلې سره اړیکه ونیسئ:

📞 پیغام یا ټلیفون: 770-6148 (213) او یا

📧 برېښنالیک: support@lacsmallbizresiliency.aidkit.org

همدارنګه، تاسو کولای شئ د عمومي پوښتنو لپاره د وړو کاروبارونو د دفتر سره اړیکه ونیسئ:

📞 ټلیفون: 432-4900 (844) (له سهار 8:30 تر ماسپښین 4:00 بجو پورې)

📧 برېښنالیک: osb@opportunity.lacounty.gov

## د تمویل جزئیات

مستحق غوښتنلیکونه به د لاس انجلوس کاونټۍ د ټاکل شویو معیارونو پر بنسټ وکتل شي او نمرې به ورکړل شي. که څو غوښتونکي ورته نمرې ترلاسه کړي، د قرعې یا لاټرۍ له لارې به د مساوي حالت پرېکړه وشي.

مستحق کاروبارونه کولای شي تر **5000** ډالرو پورې مرسته ترلاسه کړي که له فزیکي (دوکاني) سوداګریز ځای څخه فعالیت کوي، او تر **2500** ډالرو پورې که د خپلواک قراردادي، د سړک پلورونکي یا د مستحق کور-بنسټیز کاروبار په توګه فعالیت کوي.

د جایزې خبرتیاوې تمه ده چې د 2025 د نومبر په وروستیو یا د دسمبر په میاشت کې د ارزونې او ټاکنې پروسې وروسته واستول شي.

## د غوښتنلیک د بشپړولو لپاره اړین اسناد

- غوښتنلیک د ځانګړو اسنادو غوښتنه کوي.
- په ټولو اسنادو کې باړ ترلاسه کړئ چې د کاروبار نوم او مهم معلومات ښکاره وي.
- که تاسو کوم سند ونه لرئ، غوښتنلیک به ودرېږي یعني بند به شي او تاسو به ونه شئ کولای غوښتنلیک بشپړ کړئ.
- تاسو کولای شئ د یوه منظور شوي د ټولنې د کاروبار سازمان (CBO) سره اړیکه ونیسئ ترڅو د اړینو اسنادو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

تاسو کولای شئ د عمومي پوښتنو لپاره د وړو کاروبارونو دفتر سره هم اړیکه ونیسئ، خو غوښتنلیک به تر هغه وخته پرمخ ولاړ نشي تر هغه پورې چې په هره برخه کې اړین سند (اسناد) اپلوډ نه کړئ.

د اړینو اسنادو بشپړ لېست دلته وګورئ.

# غیر مستحق کاروبارونه

- غیر انتفاعي سازمانونه (په کې کلیساوې او نور مذهبي بنسټونه شامل دي)
- د ځمکې مالکین (د Schedule E Passive Incomeپه ډول عاید لرونکي)
- هغه کاروبارونه یا شرکتونه چې په ټرسټ کې ساتل شوي وي
- هغه فزیکي (دوکاني) کاروبارونه چې یوازې د .P.O بکس پته کاروي یا له موقتي شریک ځای (لکه WeWorks) څخه فعالیت کوي
- د مسلکي خدمتونو کاروبارونه لکه د وکالت/قانون، محاسبې او شتمنۍ (Real Estate) دفترونه
- هغه کاروبارونه چې نشه يي توکي یا د نشه يي توکو اړوند توکي پلوري (په کې د شرابو دوکانونه او د سګرټو هټۍ شاملې دي)
- د شرکت په ملکیت کې امتیازي هټۍ (Corporate-owned franchises)
- شخصي ټولنیز کلبونه
- د لنډمهاله پورونو هټۍ، ګاڼه پلورونکي او نور مالي اداري چې پورونه ورکوي، لکه بانکونه او د مالي خدماتو شرکتونه او هر هغه کاروبار چې د پیسو په تبادله کې د سوداګرۍ سرچینه ولري
- هغه شرکتونه چې د احتمالي پانګونې فعالیتونو کې ښکیل وي (لکه ورځنۍ سوداګري، د سټاک مارکېټ منځګړتوب)
- د بیمې شرکتونه لکه د ژوند، موټر، کور، ضمانت (Bail Bonds) او ورته نور
- نجومي چارې لکه ستوري پوهنه، د لاس کرښې لوستل، ټارو کارتونه او نور
- د شپې کلبونه، د لویانو لپاره کتاب پلورنځي او هغه کاروبارونه چې د جنسي ماهیت ژوندۍ یا نور ډول ننداري وړاندې کوي
- د قمار کاروبارونه (لکه د اس د منډې ځایونه، قمارخونې، د بینګو ځایونه)
- د ټریلر د ساتلو ساحې او د کثافاتو ځایونه
- د وسلو یا ګولیو پلورنځي
- څو کچې بازارموندنه (Multi-sales distribution) او (Multi-level marketing)
- د لابي کولو شرکتونه یا کاروبارونه چې د خپل وخت یا سرچینو 50% یا زیات د لابي کولو فعالیتونو ته ځانګړي کوي
- د حکومت دفترونه یا اداري
- هغه نور کاروبارونه چې د غوښتونکي له خوا د ورکړل شوو معلوماتو پر بنسټ د اقتصادي فرصتونو له خوا (DEO) غیر مستحق وګرځول شي

# خپله غوښتنلیک بشپړول

department
of economic
opportunity

COUNTY OF LOS ANGELES

## خنګه غوښتنلیک پیل کړئ

- د غوښتنلیک وېب پاڼې ته لاړ شئ: https://lacsmallbizresiliency.aidkit.org/apply
- د غوښتنلیک د پیل لپاره لاندې مرحلې بشپړې کړئ او نوی غوښتنلیک پیل کړئ.



## لومړی برخه: ښه راغلاست (هرکلی)

د غوښتنلیک د بشپړولو لپاره خپله خوښه ژبه وټاکئ (انګلیسي یا هسپانوي).



## لومړی برخه: ښه راغلاست (هرکلی)

**د غوښتنلیک پیل**

کله چې چمتو یاست، د “Next” یا “Start New Application” تڼۍ وټاکئ.

**د غوښتنلیک بیا پیل**

که غواړئ مخکې پیل شوی غوښتنلیک بیا پیل کړئ، د “Resume Previous Application” تڼۍ وټاکئ. بیا هغه د تلیفون شمېره یا برېښنالیک داخل کړئ چې د غوښتنلیک د پیل پر مهال مو کارولې وي. وروسته له دې چې ستاسو د اړیکو معلومات د 6-شمېره کوډ په مرسته تایید شي، تاسو ته به اجازه درکړل شي چې خپل غوښتنلیک بیا پیل کړئ او له هغه ځایه ورته بیا ادامه ورکړئ چې پاتې شوی و.



# دویمه برخه: ډېرې پوښتنې

د غوښتنلیک د پروسې لپاره ځان چمتو کولو لپاره تر ټولو ډېرې پوښتنې (FAQs) مرور کړئ.

دا پوښتنې (FAQS) همدلته موندل کېدی شئ: [https://lacsmallbizresiliency.aidkit.org/p/faqs](https://lacsmallbizresiliency.aidkit.org/p/faqs)

د اړینو اسنادو بشپړ لیست [دلته](#) وګورئ.



# درېیمه برخه: د غوښتنلیک لپاره رضایت

د پروګرام د معلوماتو د محرمیت پالیسۍ لومړی مرور کړئ او بیا یې ومنئ.

## Consent to Apply

**Data Privacy**

- I authorize AidKit, Southern California Grantmakers, and Los Angeles County's Department of Economic Opportunity to collect and use my personal information for the purpose of verification and fraud prevention, program communications, eligibility determination, payment processing, evaluation of program impact, and improvement of the AidKit platform and future Los Angeles County programming.
- I authorize AidKit, Southern California Grantmakers, and Los Angeles County's Department of Economic Oppo
contact information to reach out with additional i
programs, and services related to the **LA County Resiliency Fund** and other programs offered by
- Personal information can include identity informa
government ID, image/video), contact details, de
employment data or my financial information.
- This information may be shared with program ad
identity verification services, or payment process
by the rules of applicable program or by law).
- I understand that my data will not be sold to adve
party partners and that my privacy will be maintai
be used to provide the program service describe
application, improve features, and communicate
to this application and to share information relate
recovery services. I understand that my data will
accordance with this policy and will not be used f
purposes or sold to external advertisers.

**Your Privacy Acknowledgments**

We collect the information you provide to process your application and, if eligible, deliver program benefits. Please see our Privacy Policy for details on what data we collect, how we use it, and your privacy rights.

By moving forward with this application, you confirm:

- **I understand** I may request access to, correction of, or deletion of my information.
- **I understand** if deleting my data would prevent AidKit from delivering services, detecting fraud, or meeting legal requirements, my deletion requests may not be possible. AidKit will only retain what's necessary and will securely delete it once it is no longer required.
- **I understand** AidKit will not sell my personal information under any circumstances.
- **I understand** I may withdraw consent to receive program-related communications at any time by contacting privacy@aidkit.cloud.

*By moving forward with this application, I accept these terms, agree to receive program-related communications and acknowledge that AidKit will use my information to process my application and provide program services, as described in the Privacy Policy.*

○ Yes, I consent.
○ No, I do not consent.

## خلورمه برخه: د اړیکو معلومات

خپل د اړیکې مهم معلومات وړاندې کړئ:

- خپل بشپړ قانوني نوم ولیکئ لکه څنګه چې په ستاسو د حکومت له خوا صادر شوي پیژندپاڼه کې ښودل شوی وي.
- *یادونه :د دې غوښتنلیک د بشپړولو لپاره تاسو باید د کاروبار اکثري مالک اوسئ.*
- خپله د زیږون نېټه ولیکئ (د غوښتنلیک لپاره باید 18 کلن یا لوړ عمر ولرئ).
- خپل د تلیفون شمېره وړاندې کړئ (د اړیکو او تایید لپاره کارول کیږي).
- خپل د برېښنالیک پتې ولیکئ (د غوښتنلیک تازه معلومات به په دې برېښنالیک واستول شي).



# خلورمه برخه: د اړیکو معلومات

تاسو څخه به غوښتنه وشي چې هغه د اړیکو معلومات تایید کړئ کوم چې تاسو یې وړاندې کوئ. د تایید کوډ به ستاسو برېښنالیک او تلیفون ته واستول شي.









# پنځمه برخه: ستاسو د کاروبار په اړه

په دې برخه کې به تاسو د خپل کاروبار په اړه معلومات وړاندې کړئ. که ستاسو ځوابونه وښيي چې ستاسو کاروبار د پروګرام د وړتيا شرايط **نه پوره کوي**، غوښتنليک به ودريږي او تاسو به ونه شئ کولای چې ادامه ورکړئ. تاسو به د لاندې پوښتنو ځوابونه ورکړئ:

- ستاسو د کاروبار اغېز او د ګډوډۍ ډول
- د کاروبار مالکيت، د کاروبار ډول، او قانوني جوړښت
- ستاسو د کاروبار پته او قانوني نوم لکه څنګه چې په ماليه يا د شرکت جوړونې اسنادو کې ښودل شوی وي
- ستاسو EIN او SOS شمېره (که ستاسو د کاروبار ډول لپاره اړينه وي)
- ستاسو او ستاسو د کاروبار په اړه د نفوسو پوښتنې
- ستاسو د بيمې پوښښ، د کارکوونکو شمېر، کلني عايد، د صنعت برخه، وړاندې شوي خدمات، او د کاروبار ښه وضعيت



# پنځمه برخه: ستاسو د کاروبار په اړه

په دې برخه کې به تاسو څخه غوښتنه وشي چې وښایئ ستاسو کاروبار اصلي فعالیت چیرته ترسره کیږي. وروسته به د غوښتنلیک په نورو برخو کې تاسو ته وویل شي چې د خپل کاروبار د ډول د تایید لپاره ځانګړي اسناد وړاندې کړئ.

ډاډ ترلاسه کړئ چې هر انتخاب په دقت سره ولولئ، او پوه شئ چې هغه څنګه د پروګرام له خوا تعریف شوی مخکې له دې چې هغه انتخاب کړئ.

که هیڅ یو انتخاب ستاسو د کاروبار سره سمون نه خوري، د لارښود لپاره د AidKit د ملاتړ ډلې سره د لاندې تلیفون او بریښنالیک له لارې اړیکه ونیسئ:  (213) 770-6148 support@lacsmallbizresiliency.aidkit.org، تاسو باید یو انتخاب وکړئ ترڅو خپل غوښتنلیک ادامه ورکړئ.

**Where do you mainly operate your business? (pick one)**

- (●) I **own or rent a space** *(not my home)* that customers visit regularly. I operate from a **brick and mortar commercial** location.
- ( ) I run my business **from my home**, and customers come to me there. I operate a **home-based business.**
- ( ) I **travel to meet my customers** where they are and don't have a fixed location. I operate as an **independent contractor** or **service provider.**
- ( ) I run a **sidewalk business** where customers come to me (truck, cart, stand, or market). I operate as a **sidewalk vendor.**
- ( ) I run my business **entirely online** and never meet customers in person. I operate an **online-only business.**

A **brick and mortar** commercial business means you own or rent a space outside of your home (you do not live there) where customers regularly visit.

For example, this could be a shop, restaurant, barbershop, salon, gym, studio, or office.

It must be **located in a commercial zone** and have an establishment license or permit to legally operate. Shared spaces such as WeWorks and P.O. Boxes do not qualify.

Please confirm this is your business type, or change your answer above. If none of the options seem to fit, reach out to us at (213) 770-6148 or support@lacsmallbizresiliency.aidkit.org before proceeding and we'll help you get it sorted.

# د اسنادو اپلوډ

د غوښتنلیک په راتلونکي برخه کې، تاسو به اسناد اپلوډ کړئ ترڅو د خپل کاروبار د فعالیتونو او د ورتیا د تایید ملاتړ وکړئ.

تاسو باید اړین اسناد اپلوډ کړئ ترڅو غوښتنلیک بشپړ کړئ. ټول اسناد باید د غوښتنلیک په جریان کې د وړاندې شوي معلوماتو سره سمون ولري.

که تاسو کوم سند ونه لرئ، غوښتنلیک به ودریږي. تاسو کولای شئ هر وخت د غوښتنلیک د سپارلو نیټې **(2025 د اکتوبر 31 نېټه، ماښام 5:00 PST)** مخکې بیرته راشئ او غوښتنلیک بشپړ کړئ. که تاسو تر ټاکلي وخت مخکې اسناد اپلوډ نه کړئ، ستاسو غوښتنلیک به مستحق نه وي.

د غوښتنلیک د سپارلو وروسته، تاسو نه شئ کولای چې خپل غوښتنلیک ته بیا ننوځئ ترڅو سند تازه یا بدل کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې ټول اسناد مخکې له سپارلو سم دي. که ستاسو غوښتنلیک د بیاکتنې لپاره وټاکل شي، موږ ممکن د اضافي معلوماتو لپاره له تاسو سره اړیکه ونیسو.

که تاسو د خپلې ورتیا د پوهیدو یا د سند د منلو په اړه مرستې ته اړتیا لرئ، تاسو کولای شئ د لاس انجلوس د وړو کاروبارونو دفتر ته په دې شمېره اړیکه ونیسئ: 4900-432 (844). دوی ستاسو غوښتنلیک نه شي بشپړولی او نه هم د اسنادو د راټولولو پروسه تېرولی شي، خو کولی شي تاسو ته لارښود درکړي چې آیا ستاسو سند د پروګرام لپاره منل شوی دی که نه.

د غوښتنلیک د بشپړولو لپاره د اړینو اسنادو لېست **دلته** وګورئ.

# شپږمه برخه: د هویت سندونه راټولول

په دې برخه کې به تاسو څخه غوښتنه وشي چې خپل د هویت د تایید لپاره اسناد اپلوډ کړئ.

د هویت د تایید بشپړولو لپاره، تاسو به د ځان ژوندی عکس (Live Photo) واخلئ. تاسو کولای شئ د دې بشپړولو لینک د ټکست یا بریښنالیک له لارې ترلاسه کړئ، یا په خپل ډیسټاپ کمپیوټر کې یې بشپړ کړئ.

د اړینو اسنادو بشپړ لېست دلته وګورئ.



## Identity Document Collection

**Please upload a photo ID from the list below. You may submit expired state or federally issued photo IDs as proof of identity, provided they are no more than one year past their expiration date at the time of application.**

- California Driver's Licenses
- California AB 60 Driver's Licenses
- Other Driving License (USA or Foreign)
- California State Issued ID card
- Passport (USA or Foreign)
- Country Issued ID (USA or Foreign)
- Government Issued ID (USA or Foreign)
- Alien Identification Card (USA Green Card)
- Military ID (USA)
- Native American tribal photo ID
- Consular ID Card
- US Employment Authorization
- Matricula Consular Card (Mexico ID)
- Other government-issued photo ID that includes name and date of birth

Please take and upload a selfie (picture of yourself).

Helpful tips:

- Make sure you are in a well-lit area.
- Hold the phone directly in front of your face (not angled upward).
- Your photo should include your full face, from shoulders up, with eyes open and looking at the camera.
- Take a new photo rather than using an old one from your camera roll.

How would you like to take a live photo of yourself and your documents?

Click here to choose an option



English

AIDKIT

## Identity Verification

Please ensure you're comfortable being on camera and in a well-lit area. We will take you through the following steps below. When you're ready, click "Begin" below.

On the next few screens, you will follow these steps to confirm your identity. Don't worry, we will guide you through each step!

1

Take a photo of the front of your ID

# شپږمه برخه: د سوداګریز اسنادو راټولول

په دې برخه کې به له تاسو غوښتنه وشي چې د خپلې سوداګرۍ د فعالیتونو او د ورتیا د تصدیق لپاره اسناد پورته کړئ. که تاسو د سړک غاړې خرڅوونکی یا ګرځنده سوداګري لرئ، د دې لارښود په راتلونکې پاڼه کې د خپلو اسنادو د پورته کولو په اړه نور معلومات وګورئ.

تاسو به هغه اسناد پورته کوئ چې دا موارد ثابت کړي:

- د ملکیت زیاتره برخه او د عاید اصلي سرچینه
- کلنی عاید چې له ۶ میلیونو ډالرو څخه کم وي
- د سوداګرۍ کچه چې له 100 کارکوونکو څخه کمه وي
- د سوداګرۍ ځای په اغېزمنه سیمه کې موقعیت ولري
- له هغه ډول سوداګرۍ څخه فعالیت کول چې تاسو غوره کړی دی
- له مالي او جواز ورکونکو ادارو سره په ښه حالت کې اوسېدل

د ټولو اړینو اسنادو بشپړ لست لپاره، **دلته** کلیک وکړئ.



# شپږمه برخه: د سوداګریز اسنادو راټولول (د سړک غاړې خرڅوونکي او ګرځنده سوداګري)

ټول د سړک غاړې خرڅوونکي او ګرځنده سوداګر باید د ټولنې له یوې همکارې ادارې سره **په حضوري ډول د تصدیق بهیر بشپړ کړي** څو د خپلې سوداګرۍ مهم جزئیات تایید کړي او موږ ستاسو غوښتنلیک پروسس کړو.

**که دغه تصدیق ترسره نه شي، ستاسو غوښتنلیک به د منلو وړ نه وي.**

تاسو کولای شئ **اختیاري اسناد هم پورته کړئ** څو خپله سوداګري نوره هم تاییده کړئ. د دغو اسنادو پورته کول د تمویل لپاره د حتمي انتخاب ضمانت نه کوي، خو ستاسو د انتخابېدو چانس زیاتوي. که دا اسناد لرئ، په کلکه سپارښتنه کېږي چې پورته یې کړئ.

تاسو کولای شئ په اختیاري ډول لاندې اسناد پورته کړئ:

- د کالیفورنیا د خرڅلاو جواز (California Seller's Permit)
- د جعلي سوداګرۍ نوم (DBA) ثبت سند
  - باید په تېرو 5 کلونو کې صادر یا تمدید شوی وي
- د لوس انجلِس ښار د سړک غاړې خرڅلاو د ثبت سند (SVRC)
  - باید په تېرو 12 میاشتو کې صادر یا تمدید شوی وي
- د لوس انجلِس ښار د یوې ښاري ادارې له خوا د سړک غاړې خرڅلاو جواز (لکه د LA City Sidewalk & Park Vending Permit له StreetsLA څخه)
  - باید په تېرو 12 میاشتو کې صادر یا تمدید شوی وي
- د لوس انجلِس ښار د عامې روغتیا جواز (د ګرځنده خوراکي واحد – CMFO لپاره)
  - باید په تېرو 12 میاشتو کې صادر یا تمدید شوی وي






# اوومه برخه: د AidKit د تجربې سروې

مخکې له دې چې ستاسو غوښتنلیک د سپارلو لپاره وڅېړل شي، له تاسو به وغوښتل شي چې د غوښتنلیک د ډکولو په اړه د AidKit پلیټفارم له لارې یوه اختیاري سروې بشپړه کړئ.

AidKit هغه تخنیکي شرکت دی چې د پروګرام غوښتنلیک اداره کوي او پیسې استوي.

ستاسو نظریات د AidKit سره مرسته کوي څو د راتلونکو ګټونکو لپاره یو مثبت، اسانه او درناوي ډک تجربه ډاډمنه کړي. د سروې پوښتنو ته ځواب ویل به له 3 دقیقو څخه ډېر وخت وانه خلي.

دغه پوښتنې اختیاري دي او ستاسو ځوابونه به د پروګرام د ورتیا پر پایله هېڅ اغېزه ونه لري. که تاسو وغواړئ پوښتنې پرېږدئ، یوازې ”Next“ وټاکئ.



# اتمه برخه: بیاکتنه او سپارل

- ټول داخل شوي معلومات په دقت سره وګورئ څو ډاډ ترلاسه کړئ چې سم دي.

- د تایید برخه بشپړه کړئ، او د خپلې پوهې تر کچې څرګنده کړئ چې ټول داخل شوي معلومات سم او رښتيني دي.

- ځینې سوداګرۍ ښايي اړ وي چې په حضوري ډول د ټولنې د سوداګرۍ پوې اداري (CBO) ته لاړ شي څو د خپل غوښتنلیک د تصدیق بهیر بشپړ کړي. د دې بهیر په اړه نور جزییات د دې لارښود په راتلونکې پاڼه کې موندل کېږي.

- **یادونه**: وروسته له دې چې غوښتنلیک وسپارئ، تاسو بیا د ننوتلو او بدلون راوستلو اجازه نه لرئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې ټول داخل شوي معلومات او پورته شوي اسناد مخکې له سپارلو څخه سم دي.



# اتمه برخه: د CBO له لارې تصديق

- هغه غوښتونکي چې د فدرالي تطبيقي زونونو څخه بهر فعاليت کوي او ټول د سرک غاړې خرڅوونکي به اړ وي چې د ټولنې له يوې بنسټيزې اداري (CBO) سره په حضوري ډول د خپل غوښتنليک تصديق بشپړ کړي.
- که تاسو دې ته اړ یاست، په خپل غوښتنليک کې د Review and Submit په برخه کې به لارښود وګورئ چې پکې تشريح شوي وي ولې ستاسو لپاره دا تصديق اړين دی او کوم ګامونه بايد واخلئ.
- د CBO تصديق بايد د غوښتنليک د سپارلو تر وروستۍ نېټې **د جمعې، د اکتوبر 31، د مازيګر په 5:00 بجو د PST وخت** پورې بشپړ شي، که نه ستاسو غوښتنليک د منلو وړ نه ګڼل کېږي.
- که CBO تصديق ته اړتيا وي، تاسو به يو برېښناليک ترلاسه کړئ چې نور جزئيات او د ګډون کوونکو CBO ادارو لست به پکې وي. تاسو بايد دغه برېښناليک CBO همکار ته وښايئ څو مرسته ترلاسه کړئ.
- ستاسو غوښتنليک به تر هغه وخته "په انتظار" ګڼل کېږي څو دا پړاو بشپړ شي.



# اتمه برخه: بیاکتنه او سپارل

کله چې مو ټول معلومات په دقت سره وکتل وروسته د “Submit” تڼۍ کېکاږئ.

له سپارلو وروسته، تاسو به یو برېښنالیک ترلاسه کړئ چې ستاسو د غوښتنلیک ترلاسه کېدل پکې تایید شوي وي، او همدارنګه هغه راتلونکي ګامونه چې ښايي ستاسو د سوداګرۍ لپاره اړين وي.

برېښنالیکونه به له دې پته راځي: support@lacsmallbizresiliency.aidkit.org



# د غوښتنلیک ملاتړ او مرسته

💡 آیا مرستې ته اړتیا لرئ؟ که تاسو د غوښتنلیک سپارلو په برخه کې تخنیکي ستونزې لرئ یا کومې عمومي پوښتنې لرئ، کولای شئ د AidKit د ملاتړ ټیم سره د لاندې لارو اړیکه ونیسئ:

📞 پیغام یا تلیفون: 770-6148 (213) او یا
📧 بریښنالیک: support@lacsmallbizresiliency.aidkit.org

تاسو کولی شئ د عمومي ملاتړ لپاره د کوچنیو سوداګریو دفتر سره هم اړیکه ونیسئ:

📍 4716 E. Cesar E. Chavez, Los Angeles, CA 90022
📞 تلیفون: 432-4900 (844) (د سهار له 8:30 څخه تر ماسپښین 4:00)
📧 بریښنالیک: osb@opportunity.lacounty.gov

## وروستی یادونې

✅ غوښتنلیکونه باید د جمعې، د اکتوبر 31، د مازیګر په 5:00 بجو (PST) پورې بشپړ شي. له دې نېټې وروسته هیڅ غوښتنلیک نه پیل کېدای شي او نه بیا دوام ورکول کېدای شي.

✅ سپارل شوي غوښتنلیکونه نه شي سمول کېدای یعنې تغییر پکې څوک نشي راوړی.

✅ مالي مرسته محدود ده او تضمین شوې نه ده.

✅ معلومات تازه وساتئ راتلونکي تازه معلومات ممکن د بریښنالیک یا ټیکسټ له لارې واستول شي.

**د دې لاربښود په تعقیب، تاسو به پوه شئ چې څه اړتیا ده او د غوښتنلیک پروسه به اسانه او روانه تجربه وي. که کومې پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ د مرستې لپاره اړیکه ونیسئ!**